# راځئ چې پولیس وپیژنو
پوهنمل سمونوال حکیم الله (کوچی)

## سریزه:

له شکه پرته بشري ټولنو په دې موخه چې وکړای شي خپل جوړکړي قوانین، مقررات او پالیسي په احسن ډول په خلکو تطبیق اوپلي کړي، عامه امن او نظم په ټولنه کي را ولي نو یو سازمان یې دپولیس په نامه منځ ته راوړ تر څو پورتنیو موخوته پرې ځان ورسوي، طبعي ده چې دولتونه دهغوي ځانګړتیاوو ته په کتو په دریو قواوو ویشل کیږي، چې د سیاست په علم کي ورته دقواوو دتفکیک اصل(اصل تفکیک قواه) وایي، دهرې قوې دنده په ځانګړي توګه مالومه ده، ددې تقسیماتو پربنسټ دقوانینود تعمیل او تنفیذ دنده د اجرایه قوې ده چې د اجرآیه قوي په چوکات کي بیا د کورنیوچارو وزارت دپولیسو په واسطه په یو هېواد کي دعامه امن او نظم را وستلو دنده په غاړه لري. همدارنګه په ټولو ټولنوکي د قوانینو نقض او ترپښولاندي کیدل یو معمول کارده او دولتونه بیا د هغه ناقضینوته په ډول د ډولونو غبرګون ښکاره کوی او دا غبرګون هم دولت د یوځانګړی ارګان لخوا چې دپولیس په نوم یادېږی، تعمیل او تنفیذوي.اوس نو دا مامورین چې خورا د یو لوي مسولیت وړونکي کسان دي تر پیژندني لاندي نیسو، لومړي به یې تعریف اوبیا به یې په تاریخي شالید تکیه وکړو.

**لومړی وینا: د پولیس تعریف**

په دې برخه کي باید وویل شي چې پولیس داسلام په مقدس دین کي هم زرین تاریخ لري، خوشرح یې ددې مقالي له توان څخه لوړه ده زه اوس ورڅخه تیرږم اویوازی افغانستان کي یې په لنډ ډول څیړم، افغانستان کي هم پولیس خورا پراخ تشکیلاتي جوړښت اومهمې دندې لری، نافذه قوانینو(پخوانیوقوانینو) هم په روښانه توګه تعریف کړي او د هغوي په دندو او مکلفیتونو یې خبرې کړي دي(دپولیسو قانون، دپولیسوذاتي قانون، اساسی قانون او دجزایی اجراآتوقانون) همدارنګه یې د دې دستګاه شتون خپلو تشکیلاتو کي یو حتمي امر ګڼلی ده، مخکي مو یو دولت کي د پولیس په اهمیت او ځانګړي موقف خبرې وکړې، په دې برخه کې بیا غواړم چې پولیس لومړي په لغوي ډول او بیا ورپسی په اصطلاحي بڼه تعریف او خپل مالومات بشپړکړو.

**د پولیس لغوی مانا**

پولیس(POLICE) فرانسوي کلیمه ده اود(POLITICA) لاتیني ریښه لري چې په لغت کي د نظم او نظام راوستلوپه مانا ده. په عام ډول یې بیا مفهوم(چې حقوقي اړخ لری) عبارت له ټولوهغه مقرراتو څخه ده چې د دولت لخوا په ټولنه کښې د ښه ټولنیز ژوند د جریان په موخه وضع کیږی.

په بله وینا بیا د پولیس واژه د(politia) یوناني کلیمې څخه چې د(politique) سیاست، حکومت، مدنیت، ښاري ژوند او نظارت ته نږدي مانا لري، دې کلیمې د تاریخ په اوږدو کي محدود او نني تعریف ته ورته مفهوم در لودلې ده، ځیني کسان بیا وایي پولیس بیاهم دیوناني لفظ څخه اخیستل شوی چې (po) یې د ساتونکي یا نګهبان او(lice) یې بیا دښار په مانا ده چې ټوله کې د ښآر دساتونکی مرام ورڅخه اخیستل کیږی.

پولیس نن یوه نړیواله اصطلاح او کلېمه ده چې د خلګو د مال، سر او اسودګۍ مسول ګڼل کیږي همدارنګه په دوم قدم کښې دجرم کشف، دجرمي دلاېلورا ټولول، متهمانو او مجرمانونیول او هم د جزایی احکامو د اجرا دنده په غاړه لری. د افغانستان د پولیسوقانون چې په (۱۳۸۴) کې تصویب شوی پولیس په دوهمه ماده لومړي فقره کې داسی تعریف کړی(پولیس: افسر، ساتنمن او ساتونکی پکې شامل دي، چې دکورنیوچارو وزارت په تشکیل کې استخدامیږي او دقانون د حکمونو سره سم دعامه نظم او امن د پرځای کولولپاره فعالیت کوي).

**دپولیس اصطلاحي تعریف**

په ننۍ بڼه د پولیسو څخه دوه ډوله تعریف شوی، خاص یا ځانګړی او عام تعریف، په ځانګړي ډول تعریف کي پولیس عبارت دی، له هغه مامورینو او امنیتي بنسټونو چې په ټولنه کې د عمومي نظم اوامن راوستلو دنده په غاړه لري. په عامه مانا بیا پولیس ددندو د هغو ټولګي څخه عبارت دي، چې د چارواکو لخوا د عمومي نظم راوستلو لپاره په عامو وګړو پلي کیږي.

همداراز د دولت له خوا ټول قواعد او مقررات چې په ټولنه کې د نظم او آرامش د راوستلو او تعمیل په موخه وضع کیږي مقصد او موخه ور څخه پولیس ده، البته دا تعریف ټول ګډونه ده ، اداری اوقضایي پولیسو هم پکي

شاملیږی، حال دا چې اداری پولیس د جرم د مخنیوي او نظم راوستلو مکلفیت لري، په دي مانا چې د جرم مخنیوي مخته لدي کوي چې جرم واقع شی، اما قضایي پولیس بیا د جرم د پیښېدوڅخه وروسته د مجازاتو په پلي کېدو سره د جرم څخه مخنیوی کوی، داچې د پولیس لپاره اصطلاحي ځانګړی تعریف تر اوسه د افغانستان وضعی قوانینوهم نده وړاندي کړي نو تر دی وینا لاندي غواړم پولیس لکه څرنګه چې پورته هم ورڅخه یادونه وشوه د پولیسو د قانون سره سم داسي تعریف کړو(پولیس: افسر، ساتنمن او ساتونکی پکې شامل دي، چې دکورنیوچارو وزارت په تشکیل کې استخدامیږي او دقانون د حکمونو سره سم دعامه نظم او امن د پرځای کولولپاره فعالیت کوي ).

**دوه یمه وینا: په افغانستان کې دپولیسو وده او بدلون**

په ګران هیواد افغانستان کې دنورو هېوادونو په څیر دخپل واکمنی د ساتنې، د نظم تامین او اتباعو دحقوقو دفاع په موخه امنیتي بنسټونه له ډېره پخوا د عصر او زمان سره برابر رامنځته شوي دي، په هېواد کې دعامه امن او نظم برقراري اوساتل، اړین امنیتي تدبیرونه، د ځان ، مال او هیواد اوسېدونکو دپانګو او شتمنیو ساتنې د تاریخ په اوږدو کې دروند او ارزښتمن مقام خپل کړي ده چې د هېواد د تېر تاریخ دپاڼو په لوستلو سره کولای شو تر یوې کچې د هغه عصر ځانګړتیاوو او د پولیسو شرایطو اوشتون په اړه پوه شو.

په افغانستان کې د پولیسو لرغونتیا(تېرحال) د سیستان صفاریانو د حکومتداری په دوره کې د منظمو عساکرو جوړول، مالیاتي دیوانونه، عدلي چارو او جاسوسی دستګاه ګانو د مخنیوی په موخه تشکیل شول چې په هغه وخت کې پولیس ډېر دخبر ورکوونکي، جاسوسی مخنیونکي او استخباراتي چارو تعقیبوونکي په نوم او مانا کاریدل، د دي دورې بنسټګر(یعقوب لیث صفاری) ووچې د سیاسي موسساتو او اداري پرمختګونو ساتونکی هم وو، وروسته د سامانیانو په موده کې په دولتي تشکیلاتو کې یوسلسله اړین بدلونونه ښکاره شول، په اداره کې(شرطه دیوان)چې عربي کلمه وه او د پولیسومعادله مانا یې ورکوله، قضاء، محتسب او مستوفیت چې مالي چارې یې بررسي کولي یاد شوي دي، د شرطه دیوان دندې د کورنیو چارو وزارت سره مشابه اویو ډول وې.

له نن څخه تقریباً درې سوه کاله مخکې ، د درانیوو او سدوزیو حکومتونو د تشکیل په وخت کې په ځانګړې ډول احمد شاه بابا درانی او ورپسې تیمورشاه دراني په دوران کې کوم اسناد چې په لاس کې دي، په دي دلالت کوي چې پولیس په منظم ډول رامنځته او پرمختګ یې کړی، احمد شاه بابا دراني په پلازمینه کې داسي اداري جوړې کړې چې تر ډېره بریده یې د سزاګانو د پلي کیدو دندې درلودي لکه مالي وزارت، ضبط بیګي دفتر یا امنیه او کوتوالي(ساتونکي) نسقچي باشي( نظم جوړونکي)...یعنی ټولنه کې یې دخپل سریوو پروړاندي د مبارزې اداري رامنځته کړی.

نوځکه د(پولیسو) امنیتي ځواک د احمد شاه بابا سلطنت په موده کې د اداري تشکیلاتو برخه وه اود(ضبط بیګی) په نوم یادیدل او همدارنګه په نورو نومونو او اصطلاحاتو لکه(امین)یعنی«امین الملک»سرکاروقایع(وقایعو مشر)، سرکاربلوکات (دډلي مشر)، هرکاره باشي، داروغه اخبار،(د کلي یا ښار ساتونکي) امیرالعسس( دارالعسس امیر) ،میرشب، دشپې امیر(پاچاه)،( شپې ګرزیدونکي)، میر بزن(غښتلی) میرغضب(د اعدام مامور)، صوبه داراو نورو سره یادیدل چې په لنډ ډول یې لاندي مفاهم ایفاده کول.

**د وقایعو سرکار(مشر)**د درانیو په واکمنۍ کې د استخباراتو او اطلاعاتو مشروو.

**نسقچې باشی( دډلومنظم کوونکی)** د تیمورشاه په واکمنۍ کې د امنیتي قواوو آمروو.

**امیرالعسس اوامین العسس:**چې په عربي ژبه کې دښارساتوونکوآمراو مشردی، امیرالعسس دکوتوال(ساتونکی)او حاکم په مانا ثبت شوی چې په شپه کې به د ښار امنیت ساتنې مسوول وو او وروسته په (شپې ګرزیدونکي)اوهم میرشب( شپې میر)په نوم یاد شو ډېر مسلح اوغیرمسلح وګړي یې د خپل تسلط لاندې درلودل.

**میربزن(غښتلی):** د تیمورشاه د واکمنۍ له لقبونو څخه دی چې د انتظامي او امنیتي لویو قواوو لپاره استعمالیدو میر بزن لقب معادل( نسقچی باشي) او(میر غضب) دی چې هغوی رسماً د امنیتي قواوو آمریت او افسریت درلود او د وګړودتادیب اوتنبیه(مجازات کول) حق یې لرلو، ټولوامنیتي قواوو په میر بزن او نسقچي پورې تړاو درلود. د تیموشاه له مړیني وروسته د سدوزیو دولت وپاشل شو، خو د امیر دوست محمد خان په دویم ځل پاچاه کېدو سره سیاسي وحدت تر یواندازې تامین او اداري نظام په لږه اندازه ځان واخیست او کورني امنیت اداري

اوقضاءيي پوليسو په وسيله تامينېده، اما څرګنده نه ده چي په دي وخت کي د« پوليسو» اصطلاح د استعمال وړ وه او که نه؟ ځکه چي د امير دوست محمد خان دويم ځل امارت څخه د امنيتي تشکيلاتو په اړه اسناد په لاس کي نشته.هغه څه چي د محمد زيوو ورونو د امنيتي تشکيلاتو په اړه لاس کي دي، د مرحوم نورمحمد کوه ګدای يادښتونه دي چي ډېر د امير شير علی خان په عصر پورې اړه لري، پدې عصر کې نظامي او امنيتي لقبونه له ترکې بڼې پښتو ژبې ته تعديل شوه (واوښتو) او(لوي مختار)،(لوي ملک)،« لوي امين د باندې»او نور اصطلاحات منځته راغلل. پر دي اساس ويلی شو چې د امير شير علی خان په دوره کې د پوليسو دستګاه موجوده وه، همداسي د شمس النهار په لسمه شمېره کې په(۱۲۹۰) هجري قمري کال روز نامچه ای پوليس کې بيا(کوتوال)ياد شوی.
دکابل امروزپه کتاب کې بيا دامير شير علی خان دوره کې يوه اداره د«صفايی» په نوم موجوده وه چې دي ادارې به ښار په نفتي څراغونو روښانه کاوه او دوګړو امنيت تامين ساتنه يي کوله، هغه څه چي څرګنده او روښانه دي تر امير عبدالرحمان خان سسلطنت پورې د هېواد پوليسو سيستم د مرکزيت پر اصل ولاړ نه وو زياتره يې محلي جنبه درلوده، د هغه تاريخ څخه وروسته دمرکزي پوليسو سيستم منځته راغی، د موظفينو صلاحيت او مسوولست د امنيت په تامين کې هغوی ته توضيح شو چې د دي په ذريعه د امنيت تامين په ځانګړې بڼه منظم شو، د وخت په تېرېدو سره پوليسو او امنيتي قواوو تشکيل په ښارونو کې پرمختګ او ډېره ښه بڼه يې خپله کړه.
د اميرعبدالرحمن خان په دوره کې د منظمي اردو تر څنګ د کوتوالي تشکيلاتو يعنی د پوليسو دستګاه ګانو منظمې جاسوسي او استخباراتي ادارې په پراخه ډول ترسترګوکيدې.
د امير عبدالرحمان خان د نظامي تشکيلاتو څخه کولای شو توپ خونه، نظامي سوارلی، پياده، کوتوال(ساتونکی) ،خاصه دار پوليسو يادونه وکړو.
استاد عبدالحی حبيبی د عبدالرحمن د عصر دپوليسو اضافي قواوي چي په کوتوالی قوماندانی او خاصه دار(ځانګړي)چوکاټ کې يي دنده ترسره کوله، شل زره تنه ياد کړي دي. داميرحبيب الله په دوره کي دعساکرومنظموصفونوپه اړه اسناد شتون لري، دا اسنادڅرګندوي چي کوتوالی(ساتونکو)هم په دي صفونو کي برخه درلوده.
د دي دورې تشکيلات ملکي اداره، کوتوالي، عسکري، او پوليسو څخه جوړوه. دښار د امنيت ساتني مسول پدې دوره کي( امير العسس) په نوم يادېدو چي«عسس» په عربي کي ضابط، پوليس يا ژاندارم ته ويل کيږی.
د غازی امان الله خان په اساسی قانون کې د«پوليسو» اصطلاح او ارګان په رسمي ډول معمول وګرځيدواوځانګړی جايګاه يې درلوده.
دثور اووم (۱۳۵۷) ه ش کال د کودتا څخه وروسته دپوليس نوم په څارندوی باندی بدل شو او دپوليسو ژاندارم قوماندانی خپل ځآی امنيتی معينيت ته پريښود.
دمجاهدينواواسلامی امارت لومړی دور کي پوليس ديوی لسيزې لپاره(۱۳۷۱-۱۳۸۱)ه ش چندان تشکيل نه درلود، او بيا د لندمهاله دولت په وخت کي چي د نړيوالي ټولنې لخوا منځ ته راغي بيرته يې تشکيلات پراخ او په کارېې پيل وکړ.دپوليسو تشکيلات بياهم د تير په شان يو څه وخت د ژاندارم قوماندانی او بيا دلومړي معاونيت او ورپسې بيا په (۱۳۸۸)ه ش کال کي د کورنيوچارو وزارت ستر امنيتی معينيت په نامه سره ياد شول چي په خپل تشکيل کي يې دقانون پلي کوونکي، عامه امن اونظم تآمينول، دنشه ی توکوپروړاندی مبارزې او همدارنګه د ټول ساتنې ساتونکي درلودل.

**دريمه وينا: دښووني برخه**

ګران هېواد افغانستان کي دوخت حاکمانو ټولنه کي د آمن اونظم راوستلواو د وګړو دسر اومال دخوندی توب په موخه دپوليسوروزنه پيل او په کـال (۱۳۱۴ ه ش) کی د پوليسو لمړني تعليمي مرکز دپوليسو دتعليم ګـاه په نوم د کابل ولايت د مهتاب قلعه په ساحـه کی پرانيستله، وروسته د غې لړی پرمختګ وکړاوپه کال(۱۳۲۳) ه ش کې دغه تعليم ګاه د(پوليسوژاندارم ښوونځی) ته ارتقاع او په دغه نوم ونومول شوه، ورپسې بيا په (۱۳۳۴ ه ش) دا مرکزد پوليسودعالی ښونځی په نوم بدل او ارتقا وکړه.
په (۱۳۴۳) ه ش کال کې دې علمي بنسټ (پولـيسوعالی ښوونځی) د پوليسو اکـادمی ته ارتقاع اود پوليسواکـادمی په نامه ياده شوه، او په همدی کال کې يې دلمړی ځل لپاره دکميسار په سويه زدکړيالان له ملکي ښوونځيوڅخه جذب او دلسانس په سويه يې په پوليسی مسلک کي ددی هېواد دبچيانو په روزنه پيل وکړ.د يادولو وړ ده چی د پوليسو اکادمی زده کـړيالان د(۱۳۸۱)ه ش کال څخه تر(۱۳۸۹)ه ش کال پوری د پوليسو په عمومی

رشـتوکی زدکړي کولي، اوله هغې وروستـــــه په اختصاصي رشتواو مسلکونوکی لکه امنې، جنايي، ترافيک، سرحدی، لوژستيک، کمپيوتر، مخابره او دمحابسود اداري د ليسانس په کچه روزل کيدل.
وروسته دي بنسټ د کورنيو چارو وزارت په سطح ديو علمي او اکاډميک بنسټ په توګه خپل تشکيلات چې پکي لوی قوماندان دپاسوال بست، علمي اواداري مرستيالان د مل پاسوال په بست کي، دپوهنځيوریاستونه، دیپارتمنتونه، اداری او خدماتي څانګي شتون درلود دځلورو کلونو په اوږدو کې په پورتنيوڅانګوکي د زدکړيالانو په روزنه بوخته اوهمداراز يي په (۱۳۹۳) ه ش کال کي نوموړي برنامې دنظامی لوړو زدکړوموسسو له قانون سره سم تنظيم اود ورځنيوبرناموپه دول يې د شبانه(شپې)لخوا هم په خدمت دبوختومنسوبينو لپاره پيل کړی.
اوس مهال دغه بنسټ د شپږو پوهنځيو (امنی، حقوق او جنايی علوم، لوژستيک اومالوماتي تکنالوژی، سرحدی، محابسو او په خدمت د بوختو افسرانو د شپې پوهنځی) په ګډون د ماستري برنامه په دوو رشتو(جرم پيژندنه او پاليسی) کې علمی او اکاډميکي کړنې دپوهنيارڅخه ترپوهاند رتبه لرونکي استادانو په مرسته ترسره کيږی.
د اسلامی امارت د دوه يم ځل بريا سره يوځل بيا د کورنيو چارو وزارت مشرتابه(قدرمن خليفه صاحب او اداري معين لوی پاسوال مولوي نورجلال جلالي صاحب) دې علمي بنسټ ته هم ځانګړې پاملرنه وکړه او په اډانه کې يې دوه دوره ورځني ليسانس، يوه دوره ماستری او دوه دورې شپني ليسانس محصلين په شآندارو مراسمو سره فارغ، چې دپوليسواکاډمی په شتون د اسلامی امارت ټولې کابينې وياړلی او ددې بنسټ ارتقآ يې پوهنتون ته يو له لومړيتوبونه بللي، له نيکه مرغه دی اداري دلوړوزدکړودموسسودقانون سره سم دپوهنتون کيدو ټول شرايط پوره کړی دي، اوس مهال دا علمي بنسټ د نوي قوماندان (الحاج مولوی عبدالحکيم همت اخندزاده)چې يوخلاق، مدبرمديراودانشمند مجاهد ده دخپل کاري تيم سره(تدريسی مرستيال پوهيالی مل پاسوال حضرت محمد محمود،پوهنمل مل پاسوال ناصرخان سليمانزی اوزيارکښ استادان)، په پرلپسې هڅو او دکورنيوچارو قدرمن وزيرالحاج مولوی خليفه صاحب سراج الدين حقاني په هميشنې ملاتړ، تآکيد او وړانديز د پوهنتون کيدو په درشل کی ده اوپوهنتون کيدوسره به يې له يوې خوا هېواد ته لپاره لوستي اومسلکي پوليس ولري اوله بلې خوا به دا وياړ د ټل لپاره دخليفه صاحب په علم دوستي دتائيد مهرولګوي.

**پايله**

پورته ليکنې ته په کتو ويلای شو چې پوليسو دنورو هېوادونه ترڅنګ ګران افغانستان کې هم له پخوا شتون درلود او دچارو واکدارانو يې تشکيل او دندو ته ځانګړی پاملرنه لرلې ده، پوليس د دولت هنداره او د نظام د ستنې په مانا ده، چې تر استخدام وړاندې اړينه ده په مسلکي زدکړوسمبال شی، لومړنی کس ده چې دحاکم نظام تمثيل کوی، مظلوم او متضرر د قانوني حمايت او مرستې دغوښتنې په موخه چې طبعآ يې ځان، مال، حيثيت او عزت ته صدمه رسيدلې مراجعه کوي، تر څو پوليس ورسره د دې زيانونه په اعاده اومجرم يا خطاکار په نيولو او دسزا په تعميل کې مرسته وکړی. له بلې خوا هغه حقوق چې مظلوم، متضرر، شکمن تورن اومجرم يې د قانون اوشريعيت په رڼا کې لري هم د پوليسولخوا بايد رعايت شي، همدا راز د جرم د پيښېدو سره ټولنه هم ضرروينې او پوليس په خپل ټول قوت بايد د ټولنې نظم اعاده اوساتنه يې وکړی، بنآ يوه ټولنه کې دلوستواومسلکي پوليسو اړتيا د ژوند دبقا په موخه د اوبوشتون او اړتيا ده، چې دنظام په تشکيلاتوکي بايد ورته ځانګړی پاملرنه او همدارازيې دتعليم او تخصص په برخه کی لاهم کوټلې ګامونه پورته شی.

**سرچينې**


1. عدلی وزارت، رسمی جريده(۱۳۸۴)قانون پوليس، دوهمه ماده لومړی فقره.
2. غلامی، حسين(۱۳۸۵) رهنمودحقوقی برای پوليس افغانستان،کابل انتشارات GTZ ص ۲۹۱-۲۶۸
3. کوچی، حکيم الله (۱۴۰۳) اصول محاکمات واجراآت جزايی،جلد اول، انتشارات سعيدص۶۸
4. فاريابی، محمدعظيم(۱۳۹۵)اصول محاکمات جزايی، ص۳۵
5. احرار،محمداحرار(۱۳۹۵) پوليس درکشورما،ص۳
6. دپوليسواکاډمی تاريخچه